مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۱/۰۶

# غزل

د حسن وړی یم، مړېږم کله
له پستو شونډو دې بېلېږم کله

ستا د کمڅو به تل ستائینه کوم
له دې ستائینې نه صبرېږم کله

نادان زړګی مې ملامت ښنګه کړم
بې له تا بل ځنې ځارېږم کله

ستوري، سپوږمۍ دې په رخسار کې وینم
له رڼا پرته یې پائېږم کله

لېواله سترګې مې بس تا لټوي
ستا بېلتانه کې قرارېږم کله

د ژوند خزان مې پسرلی ښکارېږي
ستا په ملتیا کې فناه کېږم کله

مصطفی پسرلی
05/01/2019



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ